**له طالبانو سره د سولې هوکړې ته د رسېدو لپاره د امریکا د استازي هیله‌مندي**



(ژباړه)

د افغانستان سیمه ییزو رسنیو د یکشبنې په ورځ راپور ورکړ، چې د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي د ۲۰۱۹ م د اپرېل تر پیلېدو وړاندې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته د رسېدو لپاره هیله ځرګنده کړې ده. د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد خبریالانو ته وویل: «زه هیله‌من یم چې د راتلونکي کال د اپرېل تر ۲۰مې وړاندې له طالبانو سره د سولې هوکړه وکړم.» خلیلزاد په کابل کې د امریکا، طالبانو او افغان حکومت تر منځ د خبرو اترو مشري پر غاړه لري. همدارنګه ټاکل شوې چې د ولسمشرۍ ټاکنې د ۲۰۱۹ م د اپرېل پر ۲۰مه تر سره شي. په افغانستان کې زیږېدلي دغه امریکایي ډیپلوماټ زیاته کړه: «زه د خبرو اترو په قضیه کې تل هیله‌من یم.»

وروسته له هغه چې امریکا په افغانستان کې خپل لومړیتوبونه له ګواښ سره مخ ولیدل او د هند د لومړیتوبونو ماتې یې درک کړه، په افغانستان کې یې په امریکایي حکومت کې د خبرو له لارې د طالبانو د شاملېدو اقدام وکړ او د خبرو میز ته د طالبانو د مشرانو راوستو لپاره یې د پاکستان په حکومت کې خپل مزدوران وګومارل.

موږ پر طالبانو غږ کوو چې پاکستاني مزدورانو ته لېوال نه شي او د هغوی د نظامي رهبرانو پر وړاندې نرمي ښکاره نه کړي. باید له تېر څخه پند واخلي، ځکه امریکا د پاکستاني مزدورانو له مرستې پرته هېڅ وخت پر افغانستان واکمني نه شي کولی. له شک پرته چې امریکا یو ښکېلاکګر او بالفعل محارب دولت دی او له هغوی سره خبري کوونکی رسوا دی او دا هغه حقیقت دی چې هېڅ شک پکې نشته. نو پر طالبانو لازمه ده چې د ریښتیني بدلون لپاره د یو جدي عمل اقدام وکړي؛ هغه بدلون چې د الله سبحانه وتعالی یې ژمنه کړې او فرض دی او دغه کار زموږ له خارو څخه د ښکېلاک د ریښو په له منځه وړلو او د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د اعلان په واسطه پر بندګانو د الهي نظام په پلي کېدو سره شونی دی.

**ژباړه : بهیر «ویاړ»**

**۱۴۴۰، د ربیع اولاول ۱۴مه**

**۲۰۱۸ م د نومبر ۲۲مه**